دریمه کچه

# واښه لټوونکی



**لیکوال:** اوډالک ګپتا
**انځور اخیستونکی:** روحاني کور

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



هر کال، کله چې واوره په اوبه کېدو شي، ۶۷ کلن خروټی شپون، توریالی ماما، خپل ځيني اړين توکي په یوه کڅوړه کې اچوي.

خواړه چې له درې تر څلور میاشتو پورې د هغه لپاره بسنه وکړي،
۴۰ کېلوګرام مالګه  د هغه د څآروو لپاره،
لوښي، کاسي او  دېګچې،
یو زوړ مات ګوډ راډو،
درمل،
یو لاسي برق او لمریز څراغ،
او یو زوړ ټوپک د اېرانو د شړلو لپاره.

د ۳۰۰ اوزو او مېږو رمې راټولولو سره، هغه د هېماچل پردیش په ګارسا دره کې خپلې مېرمنې، دورخانۍ، خپلې کورنۍ او خپل کلي شیاخ سره مخه کوي – او روانېږي.





واښه. د واښو اوبلن تېغونه هغه څه دي چې پورته د غره په لمنو کې د ویلي شویو واورو اوبو ویالې او د غره پاکه هوا يې تغذيه کوي چې د هغه رمه وربانديې په مينه څري. دا هغه څه دي چې توريالی ماما يې هغه وخت، کله چې کلي ته د دوبي موسم راورسېږي، په لټه کې وځي.



د سلګونو کلونو راهیسې، کوچي خروټو د بدلېدونکیو موسمونو پر وړاندې تعامل کړی دی، چې په دوبي کې پورته خېژي او د کنګل ژمي تر راتګ دمخه له لوړو څړځایونو څخه بېرته کښته کېږي. د تېرو ۴۰ کلونو راهیسې، توریالی ماما د هغوی په پل پل ایښی دی، خپله وړینه چپنه یې اغوستې ده او خپله اعتباري لکړه (امسا) ټپوي.





د ځړځایونو پیدا کول هیڅ کله اسانه نه دي. څو کاله وړاندې، کله چې هغه د ډونسان په ارتفاعاتو کې خپل وروستي د مېشتېدنې میدان ته ورسېد، دوه ورځې پرله پسې بې له ځنډه واوره ووربېده. د هغه څاروي له خواړو محروم شول ځکه چې واښه د واورې لاندې خښ پاتې شوي وو. هغه هم خوراک کولو ته زړه و نه کړ. ”که دوی وږي وي، زه دې هم وږی پاتې شم،“ هغه ویل.

هغه خپل اوږد د غرختنې مزل د کالګا په نوم یو کلي څخه پیلوي. له خیرګنګا څخه تېرېدو وروسته، توریالی ماما یوه ځنګله او ناتخریب شوي منظرې ته داخلېږي، چېرته چې باندې باید موسیقیت درلودونکي نومونه ولري: ټونډابهوج، ټهاکر کون، پترا ګهاټ، پانډو پل او په پای کې ډونسپان.




*Map not to scale.*



دا ۶۰ کېلومتره سفر هغه د متلاطم پاروتي سیند تر څنګ بوځي. د سیند د پاسه پل مات دی، مخې ته فقط یوه نرۍ لار ده. هغه د یخو اوبو ویالو/سیلابونو او د اوبه کېدونکې واورې پلونو څخه تېرېږي؛ هغه د رېونده مخونو درلودنکو ګټانو د پاسه مخ پورته خېژي او د سړو اوبو ابشارونو څخه تېرېږي. د رمې د زنګونو کړنګېدل له هغه سره په خاموشۍ کې ملګرتیا کوي..







دلته، ۱۳۰۰۰ فوټه لوړ په پڼ پاورتي دره کې، توريالی ماما په پراخه خلاصه
هوا کې ګرځېدل خوښوي چې د سون لرګي راټولوي او پرېږدي چې رمه په خپله خوښه وڅرېږي.
چېرته د تګ کومه عجله نشته دی. هوا سوچه ده. اوبه رڼې
او خوږې دي. ځنګلي ګلونه غوړېدلي او واښه زرغونېږي چې رېبل کېدو ته چمتو دي.



توريالي ماما د کلونو په تېرېدو سره په دغه لوړو ځآيونو کې بدلونونه ليدلي دي. داسې يو وخت و چې په غرونو کې يو ګټ هم نه ليدل کېدو ځکه چې دوی به تل په واورو پوښل شوي وو. اوس، د اقليم بدلون له لاسه د تودوخې د لوړېدو له امله، يخچالونه ويلي کېږي او واښه لرونکي څرځايونه کم شوي دي.



هغه اندېښمن دی که چېرې
واوره ورېدل تم شي، سیندونه
به وچ او نړۍ به ختمه شي.







د خروټو لپاره هره ډبره، هره چینه، هره تراږي قیمتي ده. توریالی ماما له غرونو سره د خپلې کورنۍ په څېر مینه لري، او هیڅ کله یوازېتوب نه احساسوي. شپون د شنه اسمان لاندې ویده کېږي، د هغه رمه د هغه شاوخوا راټولېږي. هغه لږ ضایعه کول او ډېر کم ککړول کوي، له طبیعت څخه یوازې هغه څه رانیسي چې اړتیا ورته ولري او د خپل پاتې کېدو هیڅ نښان نه پرېږدي.



توریالی ماما پوهېږي چې د هغه د ماضي ورځې پای ته رسېدونکي دي. د ځرځایونو موندل نور هم سختېږي، او څاروي یې هم د پخوا په څېر څربه نه دي. په داسې حال کې ورځ یې نوره هغسې نه ده پاتې چې څنګه به پخوا وه، د خروټو کمپلې او شړۍ پلورل اسانه کار نه دی.







یو خروټۍ شپون هغه شنیلیو ته کډه کېږي چې لوړ دي او د کرهنې لپاره مناسب نه دي. د کلونو په تېرېدو سره، ختنه لا ډېره ستونزمنه ګرځېدلې ده په داسې حال کې چې پخوانۍ معمول لارې تړلې او د څرځایونو په ځمکو ونې کرل کېږي.

د شپني ییلاقیانو د دغه نسلونو کوچي ژوند په چټکۍ سره له مخې پناه کېدونکی دی. اوس، د هغه په کلي کې ځوانان ښار ته د خپلې راتلونکې په توګه ګوري.

د هغه له زامنو څخه یو یې ډېرپور دی، او د هغه تر ټولو مشر لمسی په کالج کې په درس بوخت دی. خو توریالی کاکا هغه ځآی ته ورتګ ته ادامه ورکوي چېرته چې هغه ځان تر ډېره په کور کې احساسوي.



## لارښودونکي پوښتني

1. ولې توریالی ماما هر کال دا ۴ میاشتنی سفر کوي؟ آیا دا سفر آسانه ده که سخته؟ ولې؟
2. د خپل سفر په جریان کې توریالی ما څه محسوسوي؟ که تاسې هر کال دا ډول سفر کاوه، ایا تاسې به هغه ته ورته که متفاوت احساس درلوده؟
3. ایا تاسې د توریالي ماما په خېر شپانه یا کوچیان پېژنئ؟ ستاسې په سیمه کې خلک کوم څاروي پالي؟ هغوی د خپلو څاروو روزنه څنګه کوي؟
4. د توریالي ماما بچیان ښایي د هغه په څېر کوچي ژوند و نه لري. ستاسې په اند دا بدلون ولې رامنځته کېږي؟ ایا ستاسې په اند دا خوځښت ښه دی که بد؟ ولې؟
5. ایا تاسې کله یو غر یا غونډۍ ته ختلي یاست؟ څه احساس مو درلود؟ آیا غواړئ چې غرختنه وکړئ؟ ستاسې په اندې ممکن تاسې به له کومو ننګونو سره مخامخ شئ؟